بسم الله الرحمن الرحيم

## د مشهور تاجیک "بلاګر" مور زنداني شوه

**خبر:**

د نوم وتي تاجیک بلاګر "عبدالراحمن 09" مور مېرمن "شاهده محمودا جونووا" د روان کال د فیبروري په اوولسمه نېټه د "دوشنبې" زندان ته ولېږل شوه.

**تبصره:**

شاهده د فیبروري په درېیمه وروسته له هغې نادرکه شوه، چې په "وخدت" کې د پولیس افسر څخه د خپل موبایل د بېرته اخېستلو لپاره تللې وه، څو ورځې پرلپسې د خپلو خپلوانو لخوا ولټول شوه، خو پیدا یې نکړه، وروسته پولیسو ته عارض شول، د پولیسو لخوا ځواب ورکړل شو، چې مورږ د "شاهدې محمودا جونووا" په اړه هېڅ خبر نلرو.

د مېرمن شاهدې له ورکېدو څخه پینځه ورځې وروسته د تاجکستان جمهوري دولت د کورنیو چارو وزارت لخوا په رسمي پاڼه د بلاګر د مور د ورکېدو په اړه معلومات خپاره شول. وایي چې شاهدې د "وخدت" ښار له یو تن چې د اساسي قانون د ۲۰۳ مادې پر بنسټ یې د p.2 (تنظیم جامعه افراطي) جنایي جرمي سابقه درلوده؛ اړیکې لرلې، نوموړی سایټ وایي چې شاهدې له ټولنیزو رسنیو څخه د پالیسي خلاف نشرات خپرول.

چارواکي دا خبره هم نه پټوي چې دا مېرمن یې د خپل زوی د کړنو له امله تعقیب کړې وه. دوی له نوموړي تاجکي بلاګر (د ویب لاګ جوړونکی) سره د "محمودا جونووا" د اړیکو او همکارئ نه لرلو خبره ردوي او زیاتوي، چې د یو افراطي ترهګر فکر او خوی په لرلو سره یاده ښځه رامنځته شوې ده، د راپور په یوه څنډه کې راغلي دي، چې د یوې مور او پلار تعقیبول د تاجکستان دولت ته یوه نوې پدیده ده. کېدای شي چې دوی به د چچنیا د مشر رمضان کادیروف د بلاګرو په اړه د وړاندې شوې تجربې څخه ګټه اخلي، چې په رمضان یې نېوکې کولې. د تېر کال د دېسمبر د میاشتې راهیسې دا څوم ځل دی چې د مشهورو چچنیایي بلاګرو پیښې تکرارېږي، چې تېر کال د مشهورو چچنیایي بلاګرانو(تومسو عبدالرحمانوف، منصور صدولاووف، او حسین خلیتوف) خپلوان هم تښتول شوي دي.

د چیچنیا امنیتي کار کوونکو د بشري حقونو د فعال ابوبکر یانګلبایف مور وتښتوله او جرمي دوسیه یې ورپسې واچوله؛ دا لومړی ځل نه ده چې له دا ډول ذلیلو پېښو سره مخ کېږو، بلکې بې شمېره داسې پېښې موندلی شو، چې یادونه یې نشي کېدلی، دا ډول پېښې هغه وخت کنټرولیدلی شي چې مزدور چارواکي له اسلامي خاورو څخه خپلو بادارانو ته وروشړل شي او پر ځای یې د رسول الله صلي الله علیه وسلم پر منهج بیاځلي خلافت تاسیس شي، یوازې همدا خلافت کولی شي چې د مسلمانانو سالمه سرپرستي وکړي، نو راځئ د تأسیس لپاره یې یو موټی شو!

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

لیکنه: محمد منصور
ژباړه: ابوبکر اظهار